# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



انجنير سيد عبدالقادر


۱۳ می ۲.۱۲

## ستراتيژيک تړون (دوامداره جګړه) که سياسي حل (دوامداره امن)!

### لومړي برخه : ستراتيژيکي تړون (دوامداره جګړه)!

### دوهمه برخه : سياسي حل(دوامداره امن)او ميکانيزم!

**لومړي برخه :**

سياسي حل او ستراتيژيکي تړون په داسي يو هيواد کي چی ولس يې تر درو لسيزو ډير دبهرنيو يرغلګرو او کورنيوبشري جنايتکارانو سره لاس او ګريوان وي ، دا دوي داسي متضادي لاري دي چی دهري لاري په عملي کيدو سره افغان ولس ته ځانګړي برخه ليک ور په برخه کوي ۰ يعني دسياسي حل لاره دايمي صلح او افغان ولس ته روغه جوړه منځ ته راوړي ۰ او سترا تيژيکي تړون (پوځي ا ډو) لاره بيا افغان ولس ته نه يوازي بي امني ، د وامداره جګړه ، بشري جنايات منځ ته راوړي بلکه دبهرنيو اوکورنيو مافيايي ډلو له خواه دپاته ملي شتمنيو چورولو ته هم لاره او شرايط آماده کوي ۰ يرغلګر ځواک او افغان لاس پوځي واکمنانو دخپلو نامشروع ګټو له پاره دافغان ولس د ارادې څخه ليري بيا هم دغه لاره غوره وبلل. او دا تړون يې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د افغانستان داستقلال ، ملي حاکميت ، مځکني بشپړتيا او په مجموع کي دافغان ولس په ګټه وبلي ۰ او تر ۱۸ مياشتو يوه زرګري جنګ وروسته دمي په لومړي نيټه دشپي تردولسو بجو په شا وخواه کي دافغان ملي ارادې او ملي ګټو څخه ليري دکرزي او اوباما په ذريعه په داسي حال کي دا تړون لاس ليک او خپل تر منځ يي مبادله کړ، چی اوباما دشپې پر لس نيموبجو دبګرام په پوځي ميدان کي تر سختو امنيتي تدابيرو لاندي په تياره فضا کي چی ډير څه هم نه معلوميدل دخپلي الوتکي څخه کښته او سم دلاسه د څرخکي ځانګړي الوتکي په ذريعه دارګ ماڼي ته روان سوو. نو دلته داسي پوښتنه منځ ته راځي ، چی په تيرو لسو کلونو او شپږو مياشتوکي دامريکا تر رهبري لاندي نيژدي۴۶ يرغلګرو هيوادونوپه عصري مجهزو پوځي الوتکو او سلاح و سمبال (۱۳۰۰۰۰) عسکرو اونيژدي (۴۰۰۰۰۰) افغاني امنيتي ځواک په درلودلو سره اوباما ونه کړاي سوي چی دورځي له خواه دکابل په هوايي ډګر کي د خپلي الوتکي څخه را کښته سي ، او دورځي له خواه دژورناليستانو په وړاندي دا سند دمحترم کرزي سره امضاء او بيا په دې اړوند د معمول سره سم د ژورنالستانو پوښتنو ته ځواب

ووايي . نو څنګه کيدلايسي چې امريکا او ناټونيژدي د (۱۰۰۰۰ بيا تر ۳۰۰۰۰) عسکرو په شتون کي دې افغانستان ته امنيت او ولس ته دي آرام ژوند ور په برخه کي ۰ دانو (خواب است، محال است و جنون) ۰ که دافغانستان دتيرودرو لسيزو تاريخ ته يو ځغلند نظر واچوو دورايه څخه معلوميږي چې امريکا او غربي نړي دخپلو ستراتيژيک اهدافو له پاره د ګاونديو او عربي نړي دځينو هيوادونو په مرسته دافغانستان په دننه کي جګړي ته په يوه اوبله بڼه لمن وهلي او دصلح په وړاندي يي خنډونه جوړ کړي دي ۰چې نورو ډيرو ښکاره بيلګو تر څنګ يوه دثبوت ښه نيژدي بيلګه دپاکستان دجمهور رئيس آصف زرداري هغه څرګندوني دي چې ۲۰۱۱ کال دفبروري په مياشت کي په يوه رسمي محفل کي چې داردو ژبي شاعر فيض احمد فيض دسلمي کاليزي په وياړيي خبري کولي او دهغو رازونو څخه يي پرده پورته کړه ، کوم چې په افغانستان کي دشوروي دپوځونو تر وتلو وروسته دجنګ داوږديدو سبب ګرځيدليدي او داسي ويلي دي : چې دده ميرمن بي نظيربوټو په ۱۹۸۹ کال کي په پاکستان کي لومړي وزيره وه . او ددې سره سخته مخالفه وه چې پر افغانستان دي دمجاهدينو له خواه څخه بريد تر سره سي . او دده ميرمن هغه وخت يوازي پاته سوله او ځينو کسانو يي خبره ونه منله او ويل يي په يوه هفته کي جلال آباد او (۲۵) ورځو کي به کابل ونيسو ۰ او وايي چې په دې پريکړه کي دامريکا لاس هم وو . او وايي چې بي نظير بوټو دهغه وخت دامريکا جمهور رئيس بوش ته وويل چې لږم بايد په لږم باندي ونه وژل سي. او دايي هم ورته ويلي وه چې په افغانستان کي چې څه کوو په هغه بيا خپله سوځيږو . او زرداري مخ ته ځي او وايي چې ډاکټر نجيب الله په هغه وخت کي په سوله ايز ډول دمسائيلو حل ته غاړه ايښي وه . بايد وويل سي چې دځينو کورنيو ارتجاعي کړيو په مرسته دروسيي ، امريکا اوګاونډ يو هيوادونو استخباراتي کړيو دا هڅي او تلاښونه وه چې په پايله کي يي د مرحوم ډاکټر نجيب الله او ملګرو ملتونو دصلح ګډ پلان شنډ اود دولتي واکمنۍ واک يي دېردو په لاس جوړ سوو تنظيمي مشرانو تهورکړ . چې په نتيجه کي يي افغان ولس دبشري او اقتصادي جنا ياتو څخه ډک بحران ته ور ټيله کړ ، او افغا نستان يي دنړي استعماري ځواکونو ته بي خاونده او لاس تړلي په لاس ورکړ ۰ او دا ولس دتيرو شلو کلونو په درشل کي په مستقيم او غيرمستقيم ډول د استعماري ځواکونو سره په جګړه کي ښکيل سوو . داهم ښکاره خبره ده چې يرغلګر ځواکونه دخپلو ستراتيژيک اهدافو له پاره غواړي ددغه ستراتيژيک تړون په امضاء سره چې ديوه کال په درشل کي به يوه بله (دوه اړخيزه امنيتي موافقتنامه) د کرزي او اوباما تر منځ هم امضاء سي ، د امريکايي اشغال پروسه تر ۲۰۲۴ کال پوري تمديد کړي . افغان او يرغلګر واکمنان داڅرګندوني او هڅي په داسي وخت کي کوي چې امريکا په اوس مهال کي دنورو پوځي قطعاتو تر څنګ ۲۹ـ لوي پوځي اډي لري . چې د هغي جملي څخه۱۳ هوايي پوځي اډي دي چې دري هوائي پوځي اډي يي په ډيرو عصرى تجهيزاتو باندي سمبالي دي . چې ديوي خواه کولاي سي په ډيره آساني سره دتيلو او ګازو هغه زيرميچې د کسپين او پارس په خليج کي دي په خپل کنترول کي وساتي او دبله طرفه اروپا ،آسياه (روسيه ، چين ، ايران) او هند هم کنترول کړي . دبله طرفه په مرکزي آسياه کي دامريکا پوځي تهديدي تلاښونو روسيه ودې ته وهڅول چې په ۲۰۰۳ کال په قرغيزستان کي د امريکايي پوځي اډي په وړاندي يوه پوځي اډه جوړه کړي .او هم د۲۰۰۹ کال په اګست کي دکريملين يو لوړ پوړي مشاور (سرګي پردو کا) په قرغيزستان کي دچټک غبرګون ديوي بلي نوي پوځي اډي دجوړيدو خبرورکړ . او دې چارواکي رسنيو ته وويل چې قرغيزستان وروسيي ته د جيو پليتيک له کبله ډير داهميت وړ دي .او هم يي د (۲ميليياردو ډالرو) کريډيټ دډيرو آسانه شرايطو سره ورکړ او هم دارنګه په دې وروستيو اونيو کي دروسيي دبهرنيو چارو د وزير سفر وتاجکستان ته داپه ډاګه کړل چې روسيي دولت سره موافقه وسول چې په تاجکستان کي دري پوځي اډي

جوړيکړي او هم دتاجکستان او افغانستان تر منځ سرحدي سيمي په روسيي عسکرو باندي وساتل سي . داهم د يادولو وړ خبره ده چی دستراتيژيک تړون تر امضاء وروسته وسله والومخالفينوپه خپل غبرګون کي په ښکاره ډول داسي وويل : چی دا تړون په افغانستان کي دامريکا داشغال په وخت کي تر سره سوي دي .د ولس دهيلو نماينده ګي نه کوي او هيڅ ډول قانوني بڼه نه لري . يعني دا تړون يي دجګړي داوږديدو نښه وبلل . او هم ګاونډيو هيوادونو په مختليفو سياسي بڼوددې تړون په وړاندي غبرګونونه ښکاره کړي دي . دروسيي دولت په افغانستان کي د ناټو د دوامداره شتون سره علاقه مندي ښکاره کوي . ځکه ځيني روسيي مستقل کارپوهان هم داسي فکر کوي : هر څونه چی دامريکا او ناټو قواوي په افغانستان کي وجګړي ته ادامه ورکړي ، ديوه طرفه يي د نړي په ولسونو کي دغربي نړي په ځانګړي توګه دامريکا په وړاندي دتنفر فيصدي په بيساري ډول لوړه ځي او له بله طرفه به داقتصادي سختو ستونځو سره لاس او ګريوان کيږي . چی کيدلاي سي دناټو په پاشل کيدو باندي تمامه سي . ځکه نو روسي ددې جګړي د اوږديدوله پاره دروسيي دفضا څخه وافغانستان ته دناټو د غير نظامي توکو دانتقال حق ورکړ . اوپه وروستيو مياشتوکي يي مسکو ته نيژدي داوليانوفسکي په ښار کي د غير پوځي توکو له پاره يو بيز هم په اختيارکي ورکړ . ځکه نو دروسيي دبهرنيوچارو وزير (سرګي لاوروف) چي په بروکسل کي دناټو ددفاع او بهرنيو وزيرانوداپريل دمياشتي په غونډه کي ګډون کړ يو و، داسي يي وويل:

چيڅين او دآسيا نور هيوادونه هم دناټو دځواکونو دايستلو پر پلان اندېښمن دي. دبله طرفه بيا د امريکايي پوځي اډو دشتون مسأله چی هر ځلي دامريکايي چارواکوله خواه طرحه سوي ده دمنطقي دهيوادونو تر څنګ روسيي هم سخت غبرګون ښکاره کړي دي ۰ دا ځکه چی روسيه په افغانستان کي دامريکا تر رهبري لاندي دناټو د اوږدې جګړي پلويده ، ولي دپوځي اډودشتون په وړاندي بيا غبرګون ښکاره کوي.

د يادولو وړ خبره داده چی دپردو په لاس جوړ سوو کورنيو تنظيمي مشرانو بيا پر دې تړون باندي ځکه خپلي دتائيد ټاپي ووهلي چی داشغال په دې تيرو لسو کلونو کي يي نه يوازي ددوي بشري جنايات پټ ورو سا تل ، بلکه دملي شتمنيو وچورولوته يي د بهرنيو اقتصادي مافيايي ډلو تر څنګ ودوي ته هم ښه شرا يط مساعد کړل. چی په پايله کي دغه ټوله ډلي په غلا او غير مشروع ډول دسلګونو ميليونونوډالرو خاوندان سول چی په داخل او بهر کي دلوکسو بيلډينګونو ، بانکونواو فابريکو لرونکي سوي دي ۰ ځکه نو دا مافيايي ډلي خپل ژوند دامريکايي اشغال په شتون کي ښه بولي ، چی په اوس مهال کي دا مافيايي ډلي او دکورنيو غړي يي داسلامي او افغاني دودونو څخه ليري او تکبر څخه ډک ژوند په داخل او بهر کي مخ ته بيايي. که په لږدقت دغه ستراتيژيک تړون ته وګورو داسي نوي څه نه پکښي ليدل کيږي ، ځکه ټول هغه ټکي او خبري دي چی داشغال په دې تيرولسو کلونو کي امريکا يي چارواکوو په مختليفو وختونو کي دافغان ولس دتير وتلو له پاره په ځينو رسمي محفلونو او مصاحبوکي بيان کړي دي . ولي فقط نوي څه چی ليدل کيږي هغه دکرزي او اوباما امضاء وي دي ۰ په دې تړون کي د امريکا تعهد هم کومه نوي خبره نه ده . ځکه امريکايي قواووچی په دې تيرو لسو کلونوکي هر ځل چی بشري جنايات تر سره کړي دي بيايي و محترم کرزي ته تعهد سپارلي دي چی بل ځل بيا داسي جنايت نه تر سره کوي ، او دا خپل جنايت يي يوه سهوه بللي ده . مګر بيا يي هم په مختليفو سيمو کي دا بشري جنايات ترسره کړيدي . ځکه نو ددې تړون تر امضاء وروسته يي هم دستراتيژک تړون خلاف يي بياهم په څو ولايتونو کي دشپي بمباردونه او تلاښي کړي ، او په لسګونه بي ګناه (ښځي ، ماشومان ، زاړه او ځوانان) په شهادت رسولي او ځيني يي بيا سخت زخميان کړيدي . چی کرزي د ولس له شرمه مجبوره سوو ددوي ددې

عمل په غبرګون کي دناټو وقومندان ته وواييچی دبي ګناه انسانانو دوژلو په صورت کي نو داتړون بيا معنا نه لري.

ددې ستراتيژيک تړون اصلي مخه دپوځي اډو دشتون خبره ده چی امريکا بايد تر ۲۰۱۴ کاله وروسته دخپلو سترا تيژيک اهدافو ته درسيدو له پاره دلته پوځي اډي ولري. ځکه نو دستراتيژيک تړون د دوهم فصل په يوه برخه کي داسي ليکل سوي دي: (په افغانستان کي دمتحده ايالاتو دقواوو آينده څرنګ والي ، حدود اوپه دې رابطه ددواړو هيوادونو وجايب به په دوه جانبه امنيتي موافقتنامه کي مشخص سي.) د لاس پوځي دولت او امريکا دمشرانو تر منځ ددې دواړو اسنادو د امضاء په پايله کي به نه يوازي دافغانستان دننه امنيت نور هم دسختو ګواښونو سره مخامخ سي ، بلکه افغانستان ته به دمنطقي دهيوادونو په منځ کي داسي يو ځاي (موقف) کي قرار ورکړي . لکه په اوس مهال کي چی دعربي نړي په منځ کي دنړي دتنفر څخه ډک او دعربو په وړاندي داسرائيلو موقف دي . دا ځکه چی دامريکا ديرغل دلومړيو ورځو څخه نه يوازي دافغانستان همسايه هيوادونو بلکه دمنطقي نور هيوادونو لکه روسيه چين او هند هم په افغانستان کي دامريکا دپوځي اډودشتون سره په مختليفو وختونو کښي په يوه او بله بڼه غبرګونو نه ښکاره کړي دي . په داسي حال کي چی دښاغلي کرزي دملي امنيت مشاور ښاغلي سپنتا ولسي جرګي ته دا په ډاګه کړل چی د ستراتيژيک تړون امضاء به هيڅ ډول ګواښنه به دافغنستان ګاونډيانو او دمنطقي هيوادونو ته منځته رانه وړي او په دې هکله موږ هم د دغو هيوادونو ته اطمينان ورکړي دي . او د امريکا قواووته به موږ دا وخت ورنه کړو چی زموږ دهيواد څخه پر دغو هيوادونو باندي کوم تيري تر سره کړي . دا څرګندوني په داسي حال کي افغان چاراواکي تر سره کوي چی دستراتيژيک تړون د دريم فصل په وروستي برخه کي داسي ليکل سوي دي٠ ب : "متحده ايالات ژمنه کوي چی دافغانستان له خاوري او يا تأسيساتو دنورو هيوادونو په وړاندي دبريدونو دپيل دنقطي په توګه استفاده نه کوي" ددې څرګندونو څخه داسي معلوميږي که امريکا وغواړي چی دافغانستان څخه د باندي پر يو بل هيواد باندي ديوي بلي پوځي اډي څخه بريد تر سره کړي وروسته بيا امريکا حق لري چی په افغانستان کي هم دخپلو پوځي اډو څخه پر هم هغه هيواد بريد تر سره کړي . دا ځکه چی د ستراتيژيک تړون څخه هم داسي معلوميږي ، چی په هغه صورت کي به نو افغانستان دجګړي په نوي ډګر باندي تبديل او داددرو لسيزو زوريدلي ولس به دبيساري بشري او اقتصادي جناياتو سره مخامخ کړي ٠متأسفانه چی په ولسي جرګه کي هم لوي اکثريت ددرو لسيزو بشري او اقتصادي جنايتکاران را ټول سوي دي . چی نه يوازي به ددې تړون دتصويب مخه ونه نيسي بلکه ددې تړون په تصويب سره به دوي هم دلس هاوو زروامريکايي ډالرو خاوندان سي . نوهغه څه دې خداي پاک (ج) پيښوي چی ددې جنګ ځپلي ولس خير پکښي کي وي ٠

نور بيا

اخځ : ريا نوستي ويب پاڼه ٠

: تاند ٠

تمت بالخير

۱۱ـ۵ ـ ۲۰۱۲